# د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته رپورټ

## افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د سرپرست ځانګړي استازي لخوا

## ښاغلی مارکس پوتزل

## ۲۹ اګست ۲۰۲۲

***

ښاغلی ریس،

ددغې ناستې د غوښتنې تمرکز پربشري او اقتصادي وضعیت و او زه په بشپړ ډول زما د همکار ښاغلي مارټین ګریفیتس چې د بشري چارو د همغږۍ لپاره د سرمنشي مرستیال دی، د وړاندې شویو نظرونو ملاتړ کوم. یو کال وړاندې د طالبانو له خوا د واک تر لاسه کولو وروسته، ملګري ملتونه په افغانستان کې د بشردوستانه او بشري اړتیاوو په پوره کولو کې په استثنایي ډول متمرکز پاتې دي .او لکه څرنګه چې ښاغلي ګریفیتس وویل، په افغانستان کې اړتیاوې د پام وړ ډیرې دي.

ټاکل شوې چې په راتلونکو څو اونیو کې همدې شورا ته د افغانستان د ټولیز وضعیت په اړه معلومات ورکړم. پر دې سربیره به امنیت شورا ډېر ژر د افغانستان د وضعیت په اړه د ملګرو ملتونو د سرمنشي رپورټ ترلاسه کړي .خو له دې فرصت څخه په استفادې سره زه غواړم د اوسني وضعیت په اړه یو څه نظریات وړاندې کړم.

لومړی دا چې په افغانستان کې اوسنی رژیم د نړیوالې ټولنې دهیڅ غړي لخوا په رسمیت نه دی پیژندل شوی. د دې لاملونه روښانه دي .نړیواله ټولنه د بشري حقونو په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو، استازې حکومتولۍ، اود نړیوال اجتماعي امنیت په اړه نورمونه لري. افغانستان د دغه نړیوال سیستم برخه ده او طالبان اړ دي چې خپلو نړیوالو مکلفیتونو ته غاړه کیږدي، خو برعکس دوی د ټول افغانستان پر جغرافیې د کنټرول د واقعیت پربنسټ د رسمیت پیژندلو غوښتنه کوي.

دویم، په دې کې هیڅ شک نشته چې د طالبانو د واکمنۍ له پیل راهیسې پر طالبانو بندیزونو د افغانستان پر اقتصاد اغیز کړی دی. دا خبره د سرمنشي په پخوانیو رپورټونو کې مستنده شوې. د ملګرو ملتونو سرمنشي همداراز د هغو اقداماتو غوښتنه کړې چې د افغانستان د اقتصاد له ژوندي پاته کیدو سره مرسته کوي. په دې کې هغه هڅې شاملې دي چې د افغانانو د ګټو په خاطر دې په افغانستان بانک پورې اړوندو شتمنیو ته د لاسرسي اسانتیاوې برابرې شي. پرنړیوالو مرستو سربیره چې د لومړنیو بشري اړتیاوو ملاتړ کوي - په بله معنی داسې نورې مرستې دې وشي چې د بشردوستانه مرستو چمتو کولو ور ها خوا د افغاني ټولنو د وړتیاوو ملاتړ وکړي. بشردوستانه مرستې اوږدمهاله حل نه دی. د بیوزلۍ کمول او همدارنګه د لومړنیو توکو او خدماتو وړاندې کول باید بلاخره په دوامداره اقتصادي وده تکیه وکړي. بسپنه ورکوونکو په وار وار ویلي چې د اقتصادي همکاریو بیا پیل په اصل کې د طالبانو په عمل پورې تړلی دی چې د غه اوسنی په ټپه ولاړې پالیسی بیرته د پرمختګ په هغو بدلې شي.

دریم، د طالبانو واکمن چاراوکي د حکومتولۍ له مخ پر زیاتیدونکو ننګونو سره مخامخ دي .د داخلي اختلافاتو د پرله پسې اوازو په ردولو سره، طالبان په دوامدار ډول خپل ځان د یو متحد، همغږي حکومت کوونکي اداري په توګه ښیي. په کابل کې کابینه په منظمه توګه غونډې ترسره کوي – په داسې حال کې چې ددغو ناستو پایلې د واکمنو چارواکو لخوا په عام ډول رپورټ کیږي، خو په کابل کې د کابینې او په کندهار کې د طالبانو د مشر هیبت الله اخندزاده ترمنځ اړیکه ناڅرګنده ده. د فرمانونو او د پالیسی د پریکړو پراساس د حکومت کولو کړنې، چې د "اسلام او افغاني دودونو" سره په مطابقت کې اعلان شوې، بنسټیز بشري حقونه لا ډېر محدود کړیدي، په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو لپاره د منځنینو زده کړو ترسره کول چې د مارچ پر ۲۳ مه یې د بندښت دوام اعلان شو. نن ورځ افغانستان په نړۍ کې یوازینی هیواد دی چې نجونې پکې د زده کړو له بشپړ حق څخه محرومې دي.

ښاغلی ریس،

د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ راهیسې په یوه میاشت کې د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړه شمېره په وروستیو درېو اونیو کې په کابل کې د چاودېدونکو توکو په یو لړ بریدونو کې رامنځ ته شوې چې د ډېرو پړه یې داعش-خراسان ډلې منلې. په دغه ډول بریدونو کې تر ډېره ځانګړې قومي او مذهبي ډلې په نښه شوې. موږ خوښ یو چې له واکمنو چارواکو اورو چې وایي د دغو ټولنو د لا ښه امنیت د تضمین کولو په لټه کې دي.

د جولای په میاشت کې، یوناما خپل ریپوټ " بشري حقونه په افغانستان کې" خپور کړ چې د روان کال د جون تر ۱۵ مې نېټې پورې د طالبانو د واک د لسو میاشتو موده تر پوښښ لاندې نیسي . دا د بشري حقونو لومړیتوبونه منعکس کوي چې د دې شورا لخوا د یوناما په ماموریت کې ټاکل شوي. یوناما د بشري حقونو سرغړونې مستندې کړې چې په نښه شوې ځانګړې ډلې، لکه د پخواني حکومت چارواکي او د افغانستان د ملي دفاع او امنیتي ځواکونو غړي، له داعش او د ملي مقاومت جبهې سره پر اړیکو تورن، مدني ټولنې، رسنۍ، ښځې او هغه کسان چې تش په نامه اخلاقي جرمونو تور ورپورې وي، پکې شامل دي. یوناما په ځانګړې توګه د هغو رپوټونو په اړه اندېښمنه ده چې د واکمنو چارواکو د"امر باالمعروف و نهی عن المنکر" ادارو لخوا د خلکو د ورځنی ژوند په اوږدو کې د لفظي ځورونې، ناوړه چلند او په خپل سري توګه نیول شامل دي.

د بشري حقونو د مدافعینو، ژورنالیستانو او د رسنیو د کارکونکو پر وړاندې بریدونه، د واکمنو چارواکو لخوا د پراخو سیاسي اقداماتو له اغېزو سره یوځای د رسنیو په آزادۍ او مدني فعالیت باندې ویجاړونکي اغېزې لرلې دي. د رسنیو د سرغړونې د کمیسیون د تیرې اونۍ پرانستونکې غونډه که په ریښتیا هم د ازادو رسنیو د محدودیتونو د مخنیوي لپاره کار وکړي، یو ښه پرمختګ دی.

په پای کې غواړم د اوسني وضعیت په اړه د سیمه ییز غبرګون ستاینه وکړم. د افغانستان ګاونډیان د هغه څه له امله چې په افغانستان کې پېښیږي تر ټولو ډیر اغیزمن شوي او ځیني وختونه د ګواښ احساس کوي. د افغانستان ګاونډیانو لومړی په اسلام اباد کې، بیا تهران او بیا بیه یجینګ کې د بهرنیو چارو د وزیرانو په کچه غونډې جوړې کړې. د اسلامي همکاریو سازمان هم د تېر کال په وروستیو کې په اسلام اباد کې د بهرنیو چارو د وزیرانو په کچه یوه ځانګړې غونډه جوړه کړه. تېره میاشت په تاشکند کې د افغانستان په اړه یو نړیوال کنفرانس جوړ شو چې پکې د طالبانو لوړپوړې پلاوي هم ګډون کړی و. بحثونه د ترورېزم او نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د هڅو، اقتصادي او زیربناوو پراختیاو، ټول شموله حکومتولۍ او د بشري او مدني حقونو په ځانګړې ډول د نجونو د زده کړې په ګډون د ښځو حقونو ته د درناوي پر ارزښت متمرکز وو. د طالبانو لپاره دا مهمه ده چې پوه شي چې ګاونډیان، سیمه ییز شریکان او پراخه اسلامي نړۍ غواړي چې دوی د نړیوالې ټولنې برخه وي. افغانستان په وچه کې راګیر هېواد دی چې د سوداګریزو لارو د لاسرسي لپاره پر ګاونډیانو تکیه کوي، خو د پراخو امکاناتو لرونکی هېواد هم دی چې که په سمه توګه ترې ګټه واخیستل شي، کولای شي افغانستان، سیمې او نړۍ ته ګټه ورسوي.

ښاغلی رییس،

لکه څرنګه چې ما یادونه وکړه، زه به د افغانستان د ځانګړي وضعیت په اړه له اوس څخه څو اونۍ وروسته شورا ته ډیر څه ووایم. زما په اند افغانستان پخپله د بهرنیو قدرتونو له جدي جیو پولیټیکل ټکانونو او لاسوهنو څخه بیرته نه دی رغیدلی. له دغو مداخلو هیڅ یو یې خپل پلانونه ندي ترلاسه کړي. دې ټولو مداخلو افغانستان په ناڅاپي او ډیری وخت په بې ګټې طریقې بدل کړی دی. سره له دې چې په تیرو لسیزو کې ډیرې منابع مصرف شوې، افغانستان پام وړ وروسته پاته، زیان منونکی هیواد او نړیوالو مرستو ته اړتیا لري.

د ملګرو ملتونو چارواکي او یوناما په ټول هیواد کې د خپلو ۱۱ سیمه ییزو دفترونو په ګډون، له واکمنو چارواکو سره اړیکو ته دوام ورکوي، او د واکمنو چارواکو، د ټولنې مشرانو، مذهبي ډلو، ښځو او مدني ټولنو ترمنځ د ښکیلتیا اسانتیاوې برابروي، چې موخه یې د ټول شموله او پراخې حکومتولۍاو د حقونو او آزادیو وده ده.

طالبان په دې برخه کې لا هم په ابهام کې دي چې ددوی د شرعي احکامو د تفسیر مطابق تر کومه حده دوی تعامل او ښکیلېدی شي. دا مهمه ده چې د سخت دریځی له مؤقف اخوا د طالبانو او نورو افغان اړخونو، د سیمې او نړیوالې ټولنې ترمنځ د دوامداره خبرو پر لور حرکت وشي. دا ډول خبرې اترې باید د ټولو افغانانو پر ګټو ورټولې وي. د افغانستان

راتلونکی ثبات د افغانانو د اړتیاوو په پوره کولو، د هغوی د حقونو په ساتلو او د حکومتولی په ټولو جوړښتونو کې د هېواد د تنوع په منعکس کولو پورې تړلی دی.

راځئ چې ټول راتلونکي ته پام وکړو، وضعیت ښه کړو، نه دا چې په تېر کې پاتې شو.

مننه.